د افغانستان اسلامي امارت

# د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

## د دفتر عمومي رياست

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د دفتر عمومي رياست
د صادري مهر : ۱۳۷۴ نېټه ۱۴۴۷/۳/۲۸

گڼه:

نېټه: / /۱۴۰۴

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

**د ماليې محترم وزارت ته!**

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

**موضوع: د اقتصادي کمېسيون د منظور شوې کړنلارې د شپږمې مادې د درېيمې فقرې په اړه**

د ا.ا.ا د اقتصادي کمېسيون د ۱۴۴۷ کال په درېيمه ناسته کې د **«د اقتصادي وزارتونو او ادارو په کړنو څار»** ماده د خبراوي په موخه وړاندې شوه چې د اقتصادي کمېسيون د غړو په مشوره او د کمېسيون د رئيس په تصديق پرېکړه وشوه چې د ماليې د محترم وزارت د گمرکونو او عوايدو د معين ښاغلي الحاج مفتي عبدالمتين سعيد په مشرۍ د چارو ادارې د محترم لوی رياست، د کانونو او پټروليم، د صنعت او سوداگرۍ، د اوبو او انرژۍ او د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ محترم وزارتونو د معينانو او د دفتر رئيسانو په غړيتوب دې کمېټه جوړه او د اړوند اقتصادي وزارتونو او ادارو کړنې دې وڅاري او د هغوی د چارو د څرنگوالي او د ستونزو او وړانديزونو راپورونه دې د لزوم ديد لمخې د اقتصادي کمېسيون ناستو او يا هم له اقتصادي معاونيت سره شريک کړي.

په دې اساس په پام کې ده چې د يادې موضوع د تطبيق په موخه په ۱۴۴۷/۳/۲۹ نېټه د دوشنبې په ورځ د ماسپښين پر (۲) بجو د دې معاونيت د دفتر د عمومي رئيس په مشرۍ ناسته ترسره شي، هيله ده چې په ناسته کې د گډون په موخه مو باصلاحيته استازی دې معاونيت ته راوپېژنئ. استازی مو کولای شي چې د لا زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د دې معاونيت د مصوبو د تعقيب له مسول ښاغلي محب الله شيراني سره چې د اړيکې شمېره يې (۰۷۸۳۵۳۰۲۱۷) ده، په اړيکه کې شي. والسلام

**ډېره مننه**

**مولوي عبدالله عزام**

**د رياست الوزراء د اقتصادي معاونيت**

**د مقام د دفتر عمومي رئيس**

کاپي:

- د چارو ادارې محترم لوی رياست
- د کانونو او پټروليم محترم وزارت
- د صنعت او سوداگرۍ محترم وزارت
- د کرنې، اوبو لگولو او مالدارۍ محترم وزارت
- د اوبو او انرژۍ محترم وزارت

پته: صدارت – مرمرينه ماڼۍ - د ملک اصغر څلور لارې – کابل – افغانستان
Address: Sedarat Marmarin Palace - Malik Asghar Square - Kabul – Afghanistan
د اړيکې شمېره: 0202105504
Contact number: 0202105504

Sharifullah